جنوري ۲۰۱۵

"خبريالي پريږده که نه کورنۍ به دې ووژنو"
په افغانستان کې د رسنيو د آزادۍ پر وړاندې ګواښونه

لنډيز

زما د ليکنې د خپريدو دوه ورځې وروسته له دفتره کور ته روان وم چې يو ډله موټر سايکل سپورا نږدې کيدو سره سم زما پوډبولو پيل وکړ او د خپلو توپکو پوزو قنداغونو يې زما پر مخ او لاسونو ګوذارونه وکړل. ... که څه هم ما برید کوونکي وپيژندل خو له بده مرغه پوليس او محلي اداري ... له ما سره هيڅ ډول مرسته ونه کړه . ما بيا له همدې خلکو لا زيات اخطارونه ترلا سه کړل (دا قيمتونه به ګالي، که لهمزاره کډه ونه کړي، ستا د ژوند په قيمت به تمام شي).
ـــــپه مزار شريف کې خبريال مختار وفايي، د ۲۰۱۴ کال د نومبر مياشت

د ۲۰۰۱ کال راپديخوا د ترسره شويو بيارغاونيزو فعاليتونو له مهمو لاسته راوړنو څخه يو هم په افغانستان کې د رسنيو د پام وړ پرمختګ دی. د ۲۰۰۱ کال په مقايسه چې يوازې يو څو چاپيزو او نشت تلويزيوني خپرونو فعاليت درلود اوس په افغانستان کې سلګونه ورځپاڼې، تلويزيوني او راډيوي چينلونه او خبري ويبسايټونه فعاليت کوي . نوې رسنيو د خلکو په ژوند کې ربړتيني ونډه اخيستې ده چې د ۲۰۱۴ ولسمشريزو ټولټاکنو پر مهال د ګردي ميزونو دايرول او د عامه اذهانو په جوړولو کې د دوی ونډه هم په کې شامله ده.

خو له افغانستان د زياترو بهرنيو پوځيانو له وتلو او دې هيواد ته په بهرنيو مرستو کې د پام وړ کموالي له راتګ سره هغه آزادي له ګواښ سره مخامخ شوې ده چې چې د رسنيو وده يې پاللې وه. افغان ژورناليستانو د بشري حقونو څار اداري ته وويل چې د رسنيو آزادي د حکومتي او غير حکومتي چارواکو له لوري د تاوتريخوالي د تهديد، د حکومت له خوا د خوندیتوب د نشتوالي او کميدونکي نړيوال ملاتړ له کبله مخ پر زوړي روان حالت لري . د رسنيو د آزادۍ د ساتنې څخه ملاتړ او د رسنيو پر کارکوونکو د برید کوونکو او ګواښونکو په بشپړ تحقيق او مجازاتو کې د حکومت پاتې راتګ هغه ډلې نورې هم زړورې کړي دي چې د دوی د غلي کولو هڅه کوي.

افغان ژورناليستان له هر لوري ګواښل کيږي: حکومتي چارواکي له کمزوري قانوني ملاتړ څخه په ناوړه استفادې سره خبريالان او ايډيټران ګواښي چې لانجمن موضوعات تر پوښښ لاندې ونه نيسي؛ طالبان او نورې ياغي ډلې هم د ګواښونو او تاوتريخوالي په کارولو سره هڅه کوي چې راپورونه د دوی په ګټه خپاره شي؛ او پوليس او عدلي چارواکي بيا د ګواښونو، بريدونو او ان قتلونو تحقيق او محاکمه نه کوي . زياتره ګواښونه د هغو افرادو له خوا متوجه دي چې د يوه ځواکمن حکومتي چارواکي او يا د مليشه مشرانو او جنګسالارانو په ګډون کوم بانفوذه محلي مشر استازيتوب کوي.

افغان ژورناليستان له هر لوري ګواښل کيږي : حکومتي چارواکي له کمزوري قانوني ملاتړ څخه په ناوړه استفادې سره خبريالان او ايډيټران ګواښي چې لانجمن موضوعات تر پوښښ لاندې ونه نيسي؛ طالبان او نورې ياغي ډلې هم له ګواښونو او تاوتريخوالي په کارولو سره هڅه کوي چې راپورونه د دوی په ګټه خپاره شي؛ او پوليس او عدلي چارواکي بيا د ګواښونو، بريدونو او ان قتلونو تحقيق او محاکمه نه کوي . زياتره ګواښونه د هغو افرادو له متوجه دي چې د يوه ځواکمن حکومتي چارواکي او يا د مليشه مشرانو او جنګسالارانو په ګډون کوم بانفوذه محلي اشخاصو استازيتوب کوي.

پر خبريالانو له تاوتريخوالي ډکو ترسره شويو بريدونو نه پلټل او جزا نه ورکول د دې حقيقت ښه څرګندويي کوي چې په افغانستان کې د تاوتريخوالي پر وړاندې د پراخه معافيت تر څنګ حکومت د قانون په حاکميت کې پاتې راغلی دی . افغان خبريالان زياتره وخت د سانسور له خطر سره مخامخ دي. د اداري فساد، د ځمکې د غصب، د ښځو پر وړاندې

جنوري ۲۰۱۵

دتاوتريخوالي د پېښو او له بشري حقونو څخه ناوړه استفادې په ګډون پر ګڼو حساسو موضوعاتو د ورکړل شويو راپورونو وضاحت د نورو له خوا سانسور کيږي چې خوندیتوب ته يې پېښ شوی ګوابنون راکم کړي.

کابل میشتې مسئول مدیران د هغو راپورونو د لیکلو دنده نه ورکوي چې د دوی خبریالان په خطر کې اچوي . مسئول مدیرانو او خبریالانو د بشري حقونو څار اداري ته وویل چې اوس يې د خوندیتوب یوازینۍ لار همدا ده چې خپل راپورونه پخپله سانسور کړي . له مرکزي بنارونو څخه بهر ګمارل شوي خبریالان له دې ګوابنونو سره زیات مخامخ کیږي ځکه چې دوی خطر ته زیات مساعد دي : دوی له هغه ملاتړ څخه محر وم دي چې د افغانو ژورنالیستانو لوړې ټولنې او نړیوال حضور ورته برابرولی شي. د ټولنیزو او کولتوري مسائلو پر وړاندې د ولایتونو محافظه کار چلند هم له پلازمینې بهرد لانجمنو مسائلو پر سر جوړ شوي راپورونه ستونزمن کوي.

طالبان او نوري اورپکي ډلې د خبریالانو او رسنیزو چینلونو پر وړاندې د تاوتري خوالي او ګوابنس د یوې غښتلې سرچینې په توګه اوس هم فعالي دي . کله چې اورپکو ډلو په ۲۰۰۲ کال کې د لومړي ځل لپاره خپل فعالیت پیل کړ، خبریالان يې د بریدونو لومړني اهداف وو. ځکه چې اورپکو خبریالان د افغانستان د دولت او د لوېدیځ و وسله والو نظامیانو یوه برخه بلله . خو په دې وروستیو کلونو کې طالبان او نور ې اورپکې ډلې رسنۍ د تبلیغاتو د یوې وسیلې په توګه کاروي او په فعاله توګه رسنۍ د دولت پر وړاندې د کمپاین لپاره هڅوي، ځینې وخت د تاوتریخوالي د ګوابنس په ګډون پر خبریالانو فشار اچوي چې یا د دوی بیانونه نشر کړي او یا له داسې راپورونو ډډه وکړي چې د دوی د ګټو پر خلاف موضوعات په کې خپاره کیږي.

په افغانستان کې ښځینه خبریالاني په ځانګړې توګه له سختو ننګونو سره مخامخ دي . د هغو ګوابنونو سربیره چې ټول ژورنالیستان يې زغملو ته اړ دي، ښځینه خبریالاني باید له ټولنیزو او کولتوري محدودیتونو سره باید سازش وکړي چې په دفتر کې د یوې افغاني ښځې د کار کولو پر وړاندې حساسیت څخه راپورته کیږي، چې دا کار په کلیوالي او بناري سیمو کې د تګ راتګ د محدودولو تر څنګ دوی د جنسي تاوتریخوالي ته مساعدوي. دغه عوامل نه یوازې دا چې خبریالان پخپل لاس د خپلو راپورونو سانسور ته اړ کوي بلکې ګڼې ښځې له دې هوډه هم اړوي چې ژورنالیزم د خپل کاري شخصیت لپاره وټاکي.

د رسنیو د قانون او مقرراتو سره د دولت د توافق او د شکایاتو د میکانیزم نشتوالي د رسنیو د آزادۍ پر وړاندې د پام وړ خنډونه را پورته کړي دي.د افغانستان د ۲۰۰۹ کال د ټولنیزو رسنیو قانون د خبریالانو لپاره څرګند ملاتړ نه برابروي. اوسمهال حکومت د هیڅ ډول قانوني مکلفیت لاندې اړ نه دی چې ولس ته معلومات ورکړي او د رسنیو د وندې په اړه ډیر لږ پوهاوی لري.په داسې حال کې چې د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال کنوینسیون ۱۹مه ماده هم د بیان د آزادۍ او هم د رسنیو د حقونو ملاتړ کوي او دې آزادیو ته يې حدود ټاکلي دي. که جزا له رسول شوي زیان سره برابره وي د مدني قوانینو له لارې حقوقي محدودیتونه وضع کیدای شي څو د نورو حقونه او حیثیت وساتي . د رسنیو مسئول مدیران باید د خپلو خپرو شویو مطالبو لپاره مسئول وپیژندل شي خو دا کار باید د حکومت له خوا نه بلکې د لوستونکو، ټولنې، استخدام کوونکو او د خپلواکو ژورنالیستانو د ټولنې له خوا وشي.

په داسې حال کې چې د ۲۰۰۹ کال د ډلې ییزو رسنیو قانون د شکایاتو د پروسس په اړه ښه احکام لري. دا قانون به د ډلې ییزو رسنیو د یوه کمیسون په مرسته پلي کیږي چې پرسونل يې پر ژورنالیستیکو مهارتونو سنبال دی او تر څنګ يې د رسنیو عالي شورا رامنځته کیږي چې کمیسون ته به راپور ورکوي، خو د ۲۰۱۵ کار تر پیله دې دواړو بنسټونو خپل کار نه دی پیل کړی. د دې دواړو پر ځای د رسنیزو اصولو څخه د سرغړاوي د پلټنو کمیسون فعالیتونه روان دي چې د خبریالانو پر ضد د حکومتي چارواکیو شکایتونه اخلي او دا کار د بیان د آزادي پر ځای پر رسنیو لا زیات محدودیتونه پورې کوي. له دې سره سره ځواکمن افراد ان هره ورځ د رسنیزو اصولو څخه د سرغړونو کمیسون پرېږدي او په مستقیمه توګه لویې څارنوالۍ ته مراجعه کوي چې د هغو خبریالانو پر وړاندې جنایي تحقیق وکړي پیل کړي چې دوی يې راپورنه خوښوي.

جنوري ۲۰۱۵

د اطلاعاتو او کولتور وزارت پخپل نوبت نه یوازې دا چې رسنۍ یې تر ګواښ لاندې ونیولې بلکې وزیر پخپله د هغو ژورنالیستانو پر معذرت غوښتنې ټینګار کاوه چې د حکومت او یا د یو لړ داسې ځواکمنو خواو په اړه یې حساس راپورنه خپرول چې د حکومت تر ساتنې لاندې دي. د اطلاعاتو او کولتور وزارت هره ورځ پر هغو چارواکوسترګې پټوي چې د رسنیو غړي کوابني، تهدیدوي او ان فزیکي بریدونه پرې کوي.

د ډله ییزو رسنیو د قانون هغه احکام چې خبرونه، سرمقالې او سرګرم یاني د کولتوري او اخلاقي دلایلو له کبله محدودوي د بیان د آزادۍ د محدودولو په برخه کې پرله پسې خپله وندې ترسره کو ي. په افغانستان کې خبریالان او رسنیز شرکتونه د هغو راپورونو له کبله د یو لړ تفصیلي او غیرې واضحو قوانینو احکامو ته مساعد دي چې د اسلام د دین پر خلاف بلل کیږي.

د افغانستان اساسي قانون او نړیوال قوانین د رسنیو په ګډون د بیان آزادي تضمینوي . د رسنیو په برخه کې له ۲۰۰۱ کال ځخه راهیسې ترلاسه شوې کمزوره لاسته راوړنې یوازې هغه وخت غښتلې کیدلې شي چې حکومت د تمویل کوونکو هیوادونو له اوږدمهالې ملاتړ سره د افغانو خبریالانو او رسنیزو ادارو پر وړاندې پراته ګوابنونه، تهدیدونو او د تاوتریخوالي بیلګې پای ته ورسوي. رهبري بنسټیز هارتیا ده. د دې لپاره چې د افغانستان مخ پر ودې رسنیز سکتور له پراختیا ځخه ډډمن او په لوی لاس یې د غلې کولو هڅې شندې کړي، ولسمشر غني او اجرایه رئیس عبدالله عبدالله باید په عامه توګه د بیان او د رسنیو د آزادۍ ملاتړ اعلان کړي او پر حکومتي ادارو فشار واچوي چې د رسنیو د ګوابنونکو پر وړاندې پریکنده ګامونه پورته کړي.

کلیدي وړاندیزونه

افغانستان حکومت وړاندیزونه

- پر خبریالانو او رسنیزو ادارو ټول بریدونه په عامه توګه وغندي
- د کورنیو چارو وزارت ته په پرانستې بڼه لارښونه وکړي چې پر ژورنالیستانو د ترسره شویو بریدونو چټکه پلټنه وکړي او ډاډ ورکړي چې هیڅ چارواکی، پولیس افسر، امنیتي ځواکونه او یا نورې فعالې خواوې چې د ژورنالیستانو پر وړاندې په خندِ اچونې، ناوړه استفادې او بریدونو پړه پیژندل شوي دي قانون او محاکمې ته به سپارل کیږي.
- لویې څارنوالي ته هدایت ورکړي چې پر خبریالانو د ترسره شویو بریدونو فوري، بې طرفه بشپړه پلټنه وکړي او چیرته چې مناسبه وي قانوني اجرات وکړي.
- د معلوماتو ته د لاسرسي قانون او د ۲۰۰۹ کال د ډله ییزو رسنیو قانون بشپړ تطبیق او په تیره بیا د ډله ییزو رسنیو قانون احکام بڼه پلي کړي چې د رسنیزو اصولو ځخه د سرغړونې د پلټلو کمیسون پر ځای د ډله ییزو رسنیو د کمیسون او د رسنیو د عالي شورا د جوړولو وړاندیز کوي. دا کمیسون باید د افغانو خبریالانو، رسنیزو ادارو، د رسنیو د نظارت کوونکو ډلو سره تر مشورې وروسته داسې رامنځته شي چې د خپلواکي ساتل یې تضمین او خوندي وي.

متحده ایالاتو، اروپایي اتحادیې او غړو هیوادونو او نورو تمویل کوونکو هیوادونو ته وړاندیز

- پر افغان حکومت فشار راوړي چې د ژورنالستانو او رسنیزو ادارو د ملاتړ لپاره چټک ګامونه پورته او پر ژورنالستانو بریدونه او هغوی ته ګوابنونه محکوم کړي. معلوماتو ته د لاسرسي قانون او د ۲۰۰۹ کال ډله ییزو رسنیو قانون بشپړ تطبیق او په تیره بیا د دې قانون احکام په بشپړه توګه تطبیق کړي چې د ډله ییزو رسنیو د کمیسون او د رسنیو د عالي شورا د جوړولو وړاندیز کوي.
- د پولیسو د روزنیز پروګرام ته د بیان آزادي ته د درناوي او د رسنیو موضوعات ورزیاتکړي.
- اوږدمهالې ساختاري ملاتړ چمتو کړي ځو خپلواکې رسنیزې اداري پر خپلو پښو ودروي.

طالبانو او نورو یاغي ډلو ته وړاندیز

- د افغاني او بهرنیو رسنیو د غړو، رسنیزو ادارو او تسهیلاتو په ګډون د ملکیانو پر وړاندې ټول بریدونه ودروي؛

HUMAN RIGHTS WATCH

جنوري ۲۰۱۵

- د رسنیو د غړو پر وړاندې هر ډول اختطاف، توقیف او ګواښونه ودروي.
- هغه ټولې یاغي ډلې او د هغوی غړي وغندي چې پر رسنیو بریدونه کوي.